له تاسو څخه چې چا ناروا کړنه ولیده نو په لاس سره دې منع کړي، که چیرته یې نشو کولای نو په ژبې سره، او که چېرته یې نشو کولای نو په زړه سره، او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی»،

له ابو سعید الخدري -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوریدلي دي چې ویل یې: «له تاسو څخه چې چا ناروا کړنه ولیده نو په لاس سره دې منع کړي، که چیرته یې نشو کولای نو په ژبې سره، او که چېرته یې نشو کولای نو په زړه سره، او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی»،
[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - د وسې سره سم له منکر څخه په منع کولو امر کوي، او منکر هغه څه ته وایي چې الله او رسول یې ترې منع کړي وي - نو کله یې چې منکر ولیده پرې فرض دی چې په لاس سره یې منع کړي که ځواک یې درلوده، که چیرته لدې څخه عاجز پاتې شو، نو په ژبې سره دې منع کړي، داسې چې د منکر یا بد تر سره کوونکی یې له کولو څخه منع کړي، او ضرر یې ورته بیان کړي او د دې بد پر ځای یې نیک ته لارښوونه وکړي، که چېرته لدې مرتبې څخه هم عاجز پاتې شو نو په زړه سره دې بدلون ورکړي، داسې چې هغه - کار - په زړه کې بد وګڼي او په زړه کې دا اراده وکړي چې که چیرته یې له وسې پوره وای نو خامخا به یې منع کړی و. او - یو څه ته - په زړه سره بدلون ورکول له منکر څخه د منع کولو لپاره د ایمان تر ټولو کمزوری مرتبه ده،

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65001